شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۹/۰۸

# د ځوانانو ځواک

## (دویمه‌برخه)

په تېرو پنځو لسیزو کې د افغانستان ځوانان د پرله پسې جګړو، سیاسي بدلونونو، د زده‌کړو او تیکنالوژۍ د ودې او په وروستیو کې د سختو محدودیتونو او بېکارۍ تر منځ له سترو ناورینونو او بدلونونو سره مخ شول.
که د هېواد تېر تاریخ ته ځیرشو، د ویښ ځلمیانو د خوځښتونو نه رانیولې بیا د سیاسي کینو او بنیولارو ایجاد شوو خوځښتونو او غورزنګونو کې اکثریت همدغه ځوانان وو، چې په پوهنتونونو او ښوونځیو کې یې سر راپورته کړ.
د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د سیاسي وینتیاوو په لړ کې چپ او راست ګوندونو سرونه را پورته کړي، د نظر او ایدیالوژیو توپیر یې لرلی، مګر د خبرو او تفاهم له لارې یې د خپلو مبارزو او موخو د لاسته راوړلو په لار کې هلې‌ځلې کړي او کوي یې. مګر په خواشینۍ سره چې زموږ په هېواد کې د ځوانانو له لورې د جوړو شوو ګوندونو ترمینځ د نظریاتو توپیر له پیل نه په جګړو اخ او ډب او حتا د وژنو تر کچې صرفه نه ده شوي، چې له ۱۳۴۰ نه تر ۱۳۴۸کلونو پورې د کابل پوهنتون، ننګرهار او هرات ولایتونو کې تشنج او سیاسي اختلافاتو په لړ کې د عمر، عبد الرحمن او سیدال سخندان وژنې یې د مثال په توګه یادولای شو.
په هرصورت د دموکراسۍ په لسیزه کې د هېواد د ځوانانو رول او د دوي سیاسي هلې ځلې نه هېریدونکې او د ستایلو وړ دي.
په شاهي نظام کې د ځوانانو لپاره د کار شرایط محدود و، په زرګونو د دولسم ټولګیو نه وتلي ځوانان د بیکارۍ سره لاس او ګریوان وو، یوازې د لوړ قشر او اشرافو ځامنو ته د کار شرایط مناسب و، بیکاریو، اقتصادي ستونزو،ځوانان دې ته اړویستل تر څو د هغه وخت د سیاسي ګوندونو ښکار شي، دغه ستونزمن وضعیت د ولسونو ورپیښو ستونزو د داودخان سپینې کودتا ته لاره هواره کړه، چې د چنګاښ د میاشتې په ۲۶ مه نیټه شاهي نظام په جمهوري نظام بدل شو، چې البته په دغه کودتا کې هم د ځوانو افسرانو رول د یادولو وړ دي.
د افغانستان د لومړي ولسمشر شهید سردار محمد داود خان په جمهوري نظام کې(۱۳۵۲ - ۱۳۵۷ لمریز) کال پورې ځوانانو ته د کار او تحصیل شرایط د هېواد په کچه د یو لړ اساسي او بنسټیزو پرمختګونو شاهد وو. داود خان د خپل اووه کلن پرمختیایي پلان پر مټ هڅه وکړه چې افغان ځوانان له فکري، علمي او اقتصادي پلوه په خپلو پښو ودروي.
د هغه په جمهوري دوره کې ځوانانو ته د تحصیل او کار د شرایطو د برابرولو په لړ کې یو شمېر تحولات د یادولو وړ دي.
داود خان پوهنې او د ځوانانو علمي روزنې ته ځانګړې پاملرنه وکړه، د پوهنتونونو او عالي تحصیلاتو موسسو پراختیا وموندله د کابل پوهنتون ترڅنګ په ولایتونو کې لکه ننګرهار او نورو سیمو کې د پوهنځیو او مسلکي دارالمعلیمینو ظرفیت لوړ شو، ترڅو له لیرې پرتو سیمو څخه هم راغلي ځوانان د لوړو زده کړو چانس ترلاسه کړي.
په دې دوره کې د کانکورد ازموینو سیستم په منظم او ډېر روښانه ډول پلي شو، ترڅو بااستعداده ځوانان د بډو او واسطو پرته، د خپل لیاقت پر بنسټ پوهنځیو ته لار پیدا کړي. بهرنې بورسونولپاره بهرنیو هېوادونو په ځانګړي ډول شوروي اتحاد، جرمني، فرانسې او امریکا ته واستول شول.
د مسلکي او تخنیکي ښوونځیو جوړول د هېواد د صنعتي کېدو لپاره د تخنیکومونو او میخانیکي لیسو د زده‌کوونکو جذب زیات شو، ترڅو ځوانان په مستقیم ډول د کار بازار ته چمتو شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا ډول د مسلکي کدرونو روزنه، د تخنیکومونو او صنایعو مکتبونو تقویه، د صنعتی کاري ځواک چمتو کول په فابریکو او ودانیزو پروژو او دولتی ادارو کې د کار پراخ چانسونه برابر شول او خپل بساینې ته زیاته پاملرنه تر سره شوه.
د داود خان د جمهوري نظام په دوره کې د اقتصادي پروژو د پیل له امله د کاري ځواک کچه کابو ۵۰ سلنه لوړه شوه په لویو ملي پروژو کې د ځوانانو ګمارنه د سترو فابریکو، د غازو او نفتو د استخراج، د بندونو او لویو لارو لکه د سالنګ د بیارغوني او کابل-کندهار لویې لارې د جوړولو په پروژو کې زرګونه ځوان انجنیران او کارګران پر دندو وګمارل شول.
په دولتي ادارو او اردو کې جذب د نوي جمهوري نظام په چوکاټ کې لوستو ځوانانو ته په وزارتونو، بانکونو او اداري برخو کې پراخ ځای ورکړل شو. همدا راز په پوځ کې نویو فارغ شوو ځوانو افسرانو ته ځانګړی اهمیت ورکول کېده.
داود خان له اداري فساد او واسطه بازۍ سره سخت مخالف و، له همدې امله ځوانانو ته د هغوی د لیاقت، مسلک او تخصص پر بنسټ په دولتي دندو کې لومړیتوب ورکول کېده.
په ټوله کې، د داود خان د واکمنی پنځه کلنه دوره (۱۳۵۷-۱۳۵۲) د افغان ځوانانو لپاره د ملي هویت د بیدارۍ، د معاصر تحصیل د ودې او په اقتصادي بداینې کې د هغوی د کارولو یو زرین او منظم پړاو ګڼل کېږي.
خپله زه لیکوال هم د شاهي نظام د هغو ځوانانو په کتګورۍ کې راتلم چې د کار میندلو لپاره مې د هغه وخت د نظام سلګونو دروازو ته مراجعه وکړه خو چا په دنده ونه ګمارلم. مګر په جمهوري نظام کې د هغو زرګونو دولسم پاس ځوانانو په جمله کې چې په دندو وګمارل شول، زه هم د بغلان ولایت د پلخمري په یوه فابریکه کې په کار وګمارل شوم.
باید وویل شي چې دغه دوره د ځوانانو د تحصیل او کار لپاره د یوه ښه پیل په توګه حسابولای شو، خو په خواشینی سره چې د نړیوال استعماري تاقتونو، حریصو ګاونډیو له لورې د هېواد د خرڅ شوو داخلي دښمنانو له لارې دوي ته په بهر کې د کمپونو جوړولو، تجهیزولو او هېواد ته د ورانکاریو له پاره د رالیږلو له لارې، د داود خان د اقتصادي او ټولنیزو پروګرامونو په لار کې یې خنډونه رامنځته کړل، له بله پلوه د داود خان د کاري ټیم ضعف، د کارمل د ډلې په پرچمي اړخ چې د شوروي د (ک ګ ب )باوري او اصلي اجنټان وو خورا باور کول، یو شمېر نوري تېروتنې او بې وخته د خلق دموکراتیک ګوند په رهبرانو حمله کول، زنداني کول، د هغوي د وژنو اعلانول چې په حقیقت کې یې د داود خان له حکومت او پروګرامونو نه یې هم پلوي اعلان کړي وه، د دغه ګوند د نظامي برخي ځوانو کدرونو د حفیظ الله امین د قوماندې پر بنسټ د خپلو رهبرانو د نجات له پاره په وسلوال عمل لاس پورې کړ او د ۱۳۵۷ کال د غوایي د میاشتې په ۷ مه نیټه د داود خان جمهوري نظام پای ته ورسید او خلقی نظام را منځته شو.
د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د ثور له کودتا وروسته د ۱۳۵۷ څخه بیا د شوروي تر یرغل پورې په ځانګړې توګه د خلق ډلې د واکمنۍ پر مهال د ځوانانو له پاره د کار او تحصیل په برخو کې ځنې پروګرامونه پلي شول. په دغه وخت کې په زرګونو محصلین د لوړو او مسلکي زده کړو له پاره شوروي اتحاد او د دغه بلاک سوسیالستي هېوادو ته لکه کیوبا، چکوسلواکیا،المان، بلغاریا، پولند او یو شمېر نور هېوادو ته واستول شول.
خلقي نظام د معارف د عصری کولو او سواد زده کړو له پاره پراخ کمپاینونه پیل کړل، خو د هېواد د دښمنانو د شومو پلانونو له امله دغه بهېر له جدي ننګونو سره مخ شو، همدا ډول د ځوانانو له پاره د کورنیو جګړو د پیل له امله د تحصیل او کار شرایط د سترو ستونزو سره مخ شوول په خاص ډول د شوروي د یرغل وروسته په هېواد کې جګړو او نا امنیو زور وموند او ځوانان دې ته اړویستل شول تر څو د تحصیل او کار پر ځای عسکري خدمت ته جلب شي، جبري جلب او جذب پیل شو، خورا ډېر ځوانان د دې له پاره چې عسکري خدمت ته ولاړ نه شي، تحصیلات یې نیمګړې پاتې شوول او له هېواده بهر پاکستان او ایران ته کډوال شوول.
د شوروی د یرغل او د هغوي د ګوډاګیانو دغه څه د پاسه لس کلنه دوره په هېواد کې د ټولو افغانانو له پاره د تاریخ توره دوره د زجر، وژنو، هېواد ورانونو نه هېریدونکي تاریخ دي، په دغه دوره کې تر ټولو زیات ځوانان د جګړو په دواړه خواوو کې متضرر شوول په زرګونو ځوانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ، معیوب، معلول شوول، هېواد پریښوولو ته اړ ویستل شول او تر څنګ یې د کلتوري، فرهنګي یرغلونو تر اغیزو لاندې راغلل.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ